۱-۵۰۷ مقرره،
لومړی ضمیمه

# د پرنس ویلیم کاونټي عامه ښوونځیو سره د تبعیض یا ځورونې شکایت ثبتولو لپاره د کارکوونکو یا دندې غوښتونکو لارښوونې

د پرنس ویلیم کاونټي عامه ښوونځیو (PWCS) موخه دا ده چې د مساوي فرصتونو، د کارمندانو عادلانه کړنو، او د تبعیض نه کولو په اړه د فدرالي، ایالت او سیمه ییزه قوانینو اطاعت وکړي. د ښوونځیو ډیویژن د نسل، رنګ، مذهب، ملي اصل په شمول (د ګډې شجرې یا توکم او توکمیزو ځانګړتیاوو)، جنس، جنډر هویت، جنسي تمایل، حمل، ماشوم زیږون، یا اړونده طبي شرایطو، په شمول د طی ورکولو حالت، عمر، مدنی حالت، عسکری خدمت، معلولیت، جنیټکي معلوماتونو یا د کوم بل ځیز پر اساس چې د قانون له مخې منع دي، د هر ډول تعصب، تبعیض او ځورونې له منځه وړلو ته ژمن دی.

که تاسو باور لرئ چې ستاسو په وړاندې تبعیض شوی، تاسو کولی شئ د ۱-۵۰۷ مقررې "د کارکوونکو د تبعیض او ځورونې ادعاوو لپاره د شکایت طرزالعملونه" تر لاندې شکایت ثبت کړئ، کوم چې د تبعیض د ادعاوو د څېړلو لپاره ځانګړي طرزالعملونه ټاکي.

ستاسو بشپړه شوی فورمه باید لاسلیک شي او بیا د پوستې، برېښنالیک یا په لاسی شکل د پرنس ویلیم کاونټی عامه ښوونځي د تنوع، مساواتو، شمولیت او اطاعت په څانګه کې د "اطاعت او کارکوونکو ملاتړ" دفتر ته په PO Box 389, Manassas, Virginia 20108 پته ولیږدول شي، او یا هم په مستقیم ډول deic@pwcs.edu برېښنالیک ته واستول شي. هغه فورمې چې په بشپړه توګه نه وي ډکې شوې، نه منل کېږي.

هر ترلاسه شوی لیکلی شکایت به د ۱-۵۰۷ مقررې "د کارکوونکو د تبعیض او ځورونې ادعاوو لپاره د شکایت طرزالعملونو" تر لاندې وڅېړل شي. د شکایت په څېړنه کې به مستند شوي څېړنی او له شکایت کوونکي، شاهدانو او هغو کسانو سره مرکې شاملې وي چې د تبعیض تور پرې لګول شوی وي. له تاسو څخه به وغوښتل شي چې د هغو کسانو نومونه وړاندې کړئ چې د شکایت مهم اړخونه تاییدولی شي. هغه کس چې تاسو پرې شکایت کړی وي، به هم فرصت ولري چې خپل شاهدان وړاندی کړي. د پرنس ویلیم کاونټي عامه ښوونځي به له هغو کسانو سره مرکې تر سره کړي چې ورڅخه تمه کېږي د شکایت اړوند ګټور او اړین معلومات وړاندې کړي. د مساواتو او انصاف چارو رئیس او د هغه/هغې استازي کولی شي د اړتیا په صورت کې د قضیې په اړه له مختلفو پازوالانو یا اداره کوونکو سره بحث وکړي. د څېړنې معلومات محرم ساتل کېږي، مګر تر هغه حده چې د بشپړې او عادلانه څېړنې، تورن کس ته د ځواب ویلو فرصت ورکولو، اصلاحي ګامونه پورته کولو، یا دولتي یا قضایي پوښتنو ته ځواب ویلو لپاره یی محدود افشا کول اړین وي.

د هر هغه چا په وړاندې غچ اخیستنه چې شکایت کوي یا د شکایت په څېړنه کې برخه اخلي، په کلکه منع ده.

**کارکوونکو یا دندی غوښتونکو لپاره د شکایت فورمه**

مهرباني وکړئ هره اړونده برخه ډکه کړئ او د احتمالي تبعیض یا ځورونې له پېښې وروسته یې ژر تر ژره لاندی ذکر شوي پتې ته وسپارئ:

د مطابقت یا اطاعت او د کارکوونکو ملاتړ
د تنوع، مساواتو، شمولیت , او موافقت څانګه،
د موافقت چارو متخصص
د پرنس ویلیم کاؤنټی عامه ښوونځي
PO Box 389
Manassas, Virginia 20108
ټلیفون شمیره: ۷۰۳-۷۹۱- ۸۷۶۴
بریښنالیک پته: deic@pwcs.edu

- شکایت باید د هغې پېښې له نېټې څخه چې د شکایت موضوع ده، په ۹۰ ورځو کی دننه ثبت شي.
- که اړتیا وی، ملاتړی اسناد ورسره ضمیمه کړئ.
- بې نومه (نامعلوم) شکایتونه نه منل کېږي.

**۱ برخه: شکایت کوونکی**

نوم: ______________________________

کارکوونکي آی ډی نمبر: ______________________________

د دندی ځای: ______________________________

د دندي عنوان/لقب: ______________________________

د ټلیفون (موبایل او/یا کور شمیره): ______________________________

د ښوونځی د مدیر/ رئیس نوم: ______________________________

**II برخه: قانوني واک یا صلاحیت**

**لاندې ځای کې هغه دلیل یا دلیلونه په نښه کړئ چې له مخې یې تاسو باور لرئ ستاسو پر وړاندې تبعیض یا ځورونه شوې ده. د پلي کیدو وړ ټول په نښه کړی.**

1. **د شکایت بنسټ:**
   - ☐ توکم/نسل
   - ☐ رنګ
   - ☐ ملی اصل
   - ☐ جنس
   - ☐ امیندواری/حمل
   - ☐ جنسی تمایل
   - ☐ معلولیت
   - ☐ مدنی حالت
   - ☐ مذهب
   - ☐ عمر
   - ☐ د پخوانی عسکری حالت
   - ☐ جنسی هویت
   - ☐ د ماشوم زیږون یا اړوند طبي حالتونه، د شیدو ورکولو په ګډون
   - ☐ جنیټیکي معلومات
   - ☐ *په خوندی شوی فعالیت کې د ګډون لپاره غچ اخیستنه

**غچ اخیستنه د هغه ناوړه عمل په توګه تعریف شوې چې په یو خوندي فعالیت کې د یو فرد د ګډون په ځواب کې ترسره کېږي. یو خوندي فعالیت د تبعیضي عمل سره مخالفت کول دي (د بیلګې په توګه د شکایت ثبتول، او داسې نور وغیره) یا د تبعیض اړوند په یوې پروسې کې ګډون کول دي.*

**(که د لاندې توکو لپاره اضافی ځای ته اړتیا وي، مهرباني وکړئ اضافي کاغذ ور زیات کړئ او له دې فورمې سره یې ضمیمه کړئ. د کاغذ په شا یا په څنډو کې مه لیکئ.)**

**III برخه: ادعا شوی تبعیض یا ځورونه**

1. **د هغه کس یا کسانو نومونه ولیکئ چې تاسو پرې د ښوونځیو د تبعیض او ځورونې ضد پالیسیو څخه د سرغړونې کولو تور لګوئ.**

| نوم | د دندی ځای | د دندی موقف/منصب |
|---|---|---|
| | | |
| | | |
| | | |
| | | |

**2. څه چې پېښ شوي، تشریح یې کړئ. د امکان تر حده د هرې پېښې نېټه، وخت او ځای مشخص کړئ.**

| |
|---|
| |

*که اضافي ځای ته اړتیا وي، مهرباني وکړئ اضافي پاڼه وکاروئ، او د دې فورمې سره یې ضمیمه کړئ.*

**3. کومو کړنو، څرګندونو، تبصرو یا نور وغیره تاسو دې ته اړ ایستلي یاست چې باور وکړئ تبعیض یا ځورونه ستاسو د هغو ځانګړتیاوو له امله شوې ده چې تاسو په دوهمه برخه کې یادې کړې دي (لکه نژاد/نسل، جنس، مذهب، ملي اصل، معلولیت او نور وغیره)؟**

| |
|---|
| |

*که اضافي ځای ته اړتیا وي، مهرباني وکړئ اضافي پاڼه وکاروئ، او د دې فورمې سره یې ضمیمه کړئ.*

4. **مهرباني وکړئ د هغو کارکوونکو نومونه ولیکئ چې ستاسو په باور ستاسو په څېر کارونه یې ترسره کړي وو، خو ورسره توپیري چلند شوی دی (یعنې هغوی ته جزا نه ده ورکړل شوې)**

5. **ټول هغه شاهدان یا کسان لیست کړئ چې کولی شي ستاسو ادعاوې تائید کړي.**

| نوم | ښوونځی یا ځای | منصب/موقف | د دندې شمېره |
|---|---|---|---|
| | | | |
| | | | |
| | | | |

*که اضافي ځای ته اړتیا وي، مهرباني وکړئ اضافي پاڼې وکاروئ، او د دې فورمې سره یې ضمیمه کړئ.*

**IV برخه: د شکایت حل کول**

ستاسو په نظر، ستاسو د شکایت د حل لپاره باید کوم اقدامات ترسره شي؟

زه دا تصدیق کوم چې په دې شکایت کې ورکړل شوي معلومات زما د غوره پوهې سره سم او ریښتیني دي. زه موافق یم چې د څېړنې په پروسې کی به په بشپړه توګه مرسته کوم.

د شکایت کوونکی لاسلیک: ________________________________

نیټه: ________________________________

**بشپړ شوي فورمونه د بریښنالیک، پوسټ لاری یا لاندی ذکر شوي پتی ته ولیږدوی:**

د مطابقت یا اطاعت او د کارکوونکو ملاتړ
د تنوع، مساواتو، شمولیت , او موافقت څانګه،
د پرنس ویلیم کاونټی عامه ښوونځي
PO Box 389
Manassas, Virginia 20108

یا

بریښنالیک پته: deic@pwcs.edu

که زمونږ د اداری کارکوونکي لخوا درسره په ۱۰ کاري ورځو کې دننه ستاسو د اندیښنو په اړه د خبرو اترو کولو لپاره اړیکه نه وي نیول شوې، مهرباني وکړئ په ۸۷۶۴-۷۹۱-۷۰۳ شمیره زنګ ووهئ.